# اشرف الوزراء

د افغانستان په تاريخ کښې دوه تنه په دې لقب مشهور دي، چې دواړه پلار او زوی ددې هيواد د يوې پېړۍ په سياسي پېښو کښې پوره برخه لري.

کله چې لوی احمدشاه بابا په ۱۱۶۰ هـ کال د کندهار د شيرسرخ په لويه جرگه کښې په شاهي ټاکل کېدئ په دغه جرگه کښې د باميزو له وړې قبيلې څخه يو دروند او فعال او هوښيار سړی هم شامل ؤ، چې بگی خان نومېدئ.

دا نوم ډېره قديمه او اصيله ريښه لري، بگ په قديمه دری ژبه کښې د خدای نوم په معنا ؤ، او په پښتو هم د لوی او عظيم معنا لري، نو بگی د خدای او د خدای پيداکړي په معنا ؤ، او کله چې احمدشاه بابا د افغاني شاهۍ پر تخت کښېنوست، نو ئې دغه بگی خان د لياقت او صداقت او قومي وجاهت له رويه خپل لوی وزير وټاکه، او د شاه ولي اشرف الوزراء لقب ئې ور کئ.

اِشرف الوزراء وروسته د احمدشاهي دربار لوی رکن او صدراعظم غوندي وُ، او د افغانستان په بيا جوړولو کښې غښتلئ لاس درلود، دی عاقل، مدبر، اداره چي، او دلاور عسکر او د افغاني ملت په روحياتو پوه سړی وُ، د جنګ پر ميدان بريالی سپه سالار او د مملکت د امورو په تدبير او چلولو کښې بيا يو فعال اداره چي او د پښتنو د ژوندانه په لارو چارو کښې يو تکړه جرګه مار او د ويسا وړ مشر وُ، لکه په دربار کښې چي معتبر وُ، دغسي هم په اولسي جرګو او ټولنو کښې هم دده خبره چلېده، او هر چا په درنه سترګه ورته کتل.

امام الدين د حسين شاهي تاريخ مؤلف ليکي چي اشرف الوزراء خورا فصيحه ژبه او د بيان قوت او سحاره وينا درلوده، په اکثرو جنګي سفرونو کښې د شهنشاه سره ملګرئ وُ، په ۱۱۶۳ ه کال د خراسان په تصفيه او د نيشاپور د حاکم عباس قلي خان بيات په ايل کولو کښې دده لويه برخه وه او بيا چي احمدشاه بابا د پنجاب او کشمير او سنده خواو ته متوجه سو، نو بيا هم اشرف الوزراء ورسره وُ، او په ۱۱۶۴ هـ کال ئې له مرو څخه نيولې بيا تر بدخشانه د افغانستان ټول شمالي ولايات د مملکت له مرکزه سره ونښلول، او د ۱۱۷۴ ه کال د پاني پت په لويه تاريخي جګړه کښې هم دی د نونسو زرو لښکرو سره د افغاني اردو په قلب کښي جنګېدئ، حافظ مرغزی د احمدي شاهنامې ناظم وايي :

که وزير دئ شاه ولي | په عالم کي وجلي
غم دي نه کاندي وزير | چي دعا لري تاثير
د دعا دی دا اثر | تا به کا په جهان سر
تمام ملک چي د خسرو | ستا په مهر به بيا شي نو

تر دې تاريخي فتح وروسته په ۱۱۷۵ هـ بيا په پنجاب کښې د دوو لکو ياغي سکهانو سره ونښت، او د سرهند حکومت ئې امرسنګه ته ورکړ او نورالدين خان باميزی ئې کشمير ته واستاوه، او خپل زوی دوست محمد خان اعتماد الدوله ئې هم د کشمير او جمود سيمو تصفيې ته ولېږه په ۱۱۷۹ هـ کال اشرف الوزراء خپله لور بلقيس د احمدشاه بابا زوی شهزاده سليمان ته ور واده کړه او په ۱۱۸۱ هـ بيا شاه وليخان شمالي ولاياتو ته سفر وکړ، ځکه چي د بخارا پادشاه پر دغو افغاني ولاياتو باندې تعرض کړئ وُ، نو پخپله احمدشاه هم د هرات له لاري هلته ولاړ، او د بخارا له حکومته سره ئې روغه وکړه، او د آمو سيند دواړو مملکتو سرحد وټاکل سو.

په دې سفر کښې شاه وليخان خرقه شريفه د جوزجان له فيض آباده کندهار ته په ۱۱۸۲ هـ کال راوړه، چي يوه شاعر دا واقعه داسي راوړې ده :

| | |
|---|---|
| زهی خرقه باس عادت که شد | خراسان زفيض قدومش منور |
| معلی جناب احمد آن شاه والا | که بدو رتبه اش برتر از بام اخضر |
| فرستاد در جورگون بهر تعظيم | ولی خان وزير خود آن نيک اختر |
| بياوردش او جوزگون آن نکو نام | بصد عز و تکريم بسيار و صد فر |

په ۱۱۸۶ هـ کال چي احمد شاه بابا دکندهار د توبې په غره کښې وفات سو، نو اشرف الوزراء د احتياط په توګه خپل زوم شهزاده سليمان په پادشاهي وټاکه، مګر شهزاده تېمور چي د هرات حکمران وُ ژر راغئ، او د بکوا پر دښت ئې شاه وليخان او دده کورنۍ خو تنه ووژل او په کندهار کښې پادشاه سو.

د اشرف الوزراء په کورنۍ کښې وروسته ډېر مشاهير پيدا سوي دي چي تر ټولو معروفتر دده زوی شېرمحمد خان وُ، او وروسته ده ته هم د

اشرف الوزراء لقب ورکړه سوئ وُ، دی د قرآن شريف حافظ هم وُ. چي د پلار تر مرګ وروسته ئي د نصيرخان بلوڅ دربار ته پناه وروړه، او بيا نو کندهار ته راغئ او په خپله پلرنۍ کلا کښي د دهلې د ارغنداو پر غاړه اوسېدئ، او کله چي په ۱۲۰۷ ه تيمورشاه وفات سو، او دده زوی شاه زمان ئې پر تخت کښېنوست، نو ئې شېرمحمد خان د مختارالدوله په لقب خپل وزير مقرر کئ. ده د شاه زمان او شاه شجاع د عصر په واقعو کښي لوی لاس درلود، او په سند او کشمير او خراسان او کابل کښې مهم کارونه کړي دي.

امام الدين د تاريخ حسيني ليکوال چي معاصر مؤرخ دئ، دده حال داسي ليکي :

" اشرف الوزراء مختارالدوله حافظ شېرمحمد خان بهادر پسر اشرف الوزراء شاه وليخان بهادر باميزی مرحومت، و در زمان حضرت تيمورشاه مغفور مبرور، بعد کشته شدن پدر خود با احوال غرباء در گوشه بسر ميبرد، چون خاقان زمان بر سرير سلطنت جلوس نمود، شيرمحمد خان ممدوح را بخطاب مختارالدوله به اعلى رتبه وزارت سرفراز ساخته سردار کل ايلات درانيه فرمودند، او مرديست خدا ترس رعيت پرور خوش خلق، شيرين گفتار، سخي، مردم دور دست با وصف ناديدګي ثناخوان او هستند. از مکر وحيله عاريست و درانيان بسيار باو رجوع دارند."

په ۱۲۰۸ ه کال ميرنصير خان د بلوڅو امير مړ سو، او دده کوچنی زوی مير محمود خان ئې پر ځای ودرېدئ، نو مير بهرام خان بلوڅ دده سره مقابله شورو کړه، مير محمود خپل وزير ملا فتح محمد او محراب خان د شاه زمان دربار ته د کومک لپاره راواستول. افغاني دربار هم دغه شېرمحمد خان د دوو زرو سپرو سره د مير محمود کومکي

واستاوه، چې مير بهرام ته ئې ماته ورکړه، او مير محمود ئې د کلات پر اميرئ باندې ټينګ کئ.

وروسته په ۱۲۱۱ هـ کال اشرف الوزراء مختارالدوله پنجاب ته مقرر سو، چې هلته ئې په شيخوپوره کښې ياغي سيکهان سره و مروړل، او پنجاب ئې له دوی څخه پاک کئ.

په ۱۲۱۲ هـ کال له خراسانه څخه نادري شهزادګان عباس ميرزا او نادر ميرزا د شاهرخ ميرزا زامن د آقامحمد قاجار له لاسه افغاني دربار ته پناهنده راغلل، نو په همدغه کال مختارالدوله اشرف الوزراء دوي بيرته مشهد ته بوتلل، او دغه ښار ئې ونيوئ، او دغو نادري شهزادګانو ته ئې ور وسپاره.

کله چې تر اوږدې خانه جنګئ وروسته په ۱۲۲۲ هـ کال د افغانستان تخت شاه شجاع ته ورسيدئ نو ده مختارالدوله د کشمير حکومت ته مقرر کئ، چې وروسته نو عطاء محمد خان دده زوی هلته حاکم پاته سو، او پخپله شېرمحمد خان د کابل شاهي دربار ته راوغوښت سو.

مګر مختارالدوله مرکز ته را نه غئ، او د شاه زمان له زويه سره چې شهزاده قيصر نوميدئ ملګرئ سو، او پېښور ئې ونيوئ، نو شاه شجاع د خپلو لښکرو سره پر پېښور حمله وکړه، او د جعفر خان په کوټ کښې مختارالدوله او دده ورور حاجي مير احمدخان دواړه په جنګ کښې مړه سول، چې دغه واقعه په ۱۲۲۳ هـ کال پېښه سوې ده.

د شېرمحمد خان څلور زامن مشهور دي، چې عطاء محمد خان، جانداد خان، سلطان محمد خان او غلام محمد خان نوميدل. او دغه غلام محمد د اټک حاکم ؤ، چې لور ئې د وزير اکبر خان مانينه وه، او د اول جنګ په زمانه کښې د شهزاده فتح جنګ وزير ؤ.

د اشرف الوزراء حافظ شېرمحمد خان نور څورلس ورونه هم د

افغانستان په تاریخ کښي شهرت لري، چي له هغو څخه نظام الملک ګل محمد خان د کندهار نایب الحکومه او حاجي عبدالرحیم خان او قمردین خان د شالکوټ (کویټي) حاکمان وه، او د شاه ولي خان وراره عطاګی خان د یعقوب علی خان زوی هغه سړی دئ چي د پاني پت په جنګ کښي د افغاني لښکرو سالار ؤ، او هم په دغه جنګ کښي شهید سوئ دئ.

د اشرف الوزراء شاولیخان مځکي او د هستوګني ځای د کندهار د دهلې هغه سیمي دي، چي اوس د ارغنداو ډم پر جوړ سوئ دئ، او هغه مځکي او کلاوي تر اوبو لاندي دي.

دغسي هم د دوی اولادې د کویټي په شال کښي جایدادونه او مځکي درلودې چي تراوسه ئې هم ځني بقایا هورې پاته دي. او د کندهار د ښار د بامیزو په کوڅه کښي د شاه ولیخان کورونه وه، او له هغو سره ئې یوه لو جامع هم جوړه کړې وه، چي اوس ئې زړه جامع بولي.

اشرف الوزراء شاه ولیخان او دده تکړه څورلس زامن د احمدشاهي سلطنت ارکان وه، او د دغه لوی او پراخ مملکت په اداره او احمدشاهي فتوحاتو کښي د دوی لویه برخه وه، د تیمور شاهي دربار لویه سهوه هم دا وه، چي دغه نامور او غښتلی او مدبر وزیر ئې مړ کئ. او هم له دې جهته افغاني سلطنت وروسته ضعیف او په خانه جنګي مبتلا سو.

په تاریخ کښي ځیني وقایع کټ مټ تکراریږي، کله چي لوی سلطان محمود غزنوی په ۴۲۱ ه کال وفات سو، نو دده لوی زوی شهزاده مسعود د هرات له لار راغئ، او خپل کشر ورور محمد ئې ونیوئ چي په غزني کښي پاچا سوئ ؤ. او د پلار لوی وزیر حسنک ئې

مړ کیږ، مګر دده شاهي په دې اقدام سره ډېره ضعيفه سوه. موږ ګـورو چي ۷۶۵ کاله وروسته عين دغه سهوه بيا تکرار سوه، او د احمدشاه تـر وفات وروسته دده کشر زوی سليمان په کندهار کښـي پاچـا سـو، مګـر مشر شهزاده تيمور له هغه هراته راغیږ، خپل کشر ورور ئې ونيـویږ او د پلار نامدار او مدبر او بريالی وزيـر ئـې مـړ کـیږ، چـي د تيمـور شـاه د سلطنت قوت هم ورسره زايل سو، او دا زموږ د تاريخ عبرت بخښـونکي پيښي دي، چي بايد د مملکت په ګټه، عبرت څني واخيستل سي.(۱)

(۱) وږمه مجله د ۱۳۵۳ ل کال لومړۍ ګڼه ص ۳